پوهاند محمد بشیر دودیال ۲۰۲۰/۰۲/۱۷

# د افغانستان د اوبو منبع،
# د ریسرچ یوه ضروری موضوع

د طبیعی منابعو د اقتصاد او د چاپیریال د شتمنیو په بحث کې اوبه یوه جریانی منبع( Flow resource) ده، که استفاده ورڅخه وشی، یا ونشی له لاسه وځي. د دغي حیاتی منبع خصوصیت له ذخیروی او ترکیبی منابعو سره توپیر لري، نوځکه باید ستراتیژیکه منبع وبلل شی. موږ به هغه وخت دغه قیمتی او حیاتی منبع ښه مدیریت کړای شو، چې دعلمی څیړنو موضوع یې وګرځوو. ډیره ضروری ده چی د طبیعی منابعو د څیړنی د ادارو په لړ کې ورته ځای ورکړو. له نیکه مرغه اوس د هایدرولوجی او هایدرومتری تکنالوژي آسانه مهیا کیږی او پوهه هم ورباندی ستونزمنه نده.

تر اوسه موږ دافغانستان د اوبو په هکله ډیری لږ علمی څیړنی لرو(خصوصاً د نورو هیوادوپه پرتله). آن داچي لا هم دې موافقې ته نه یاستو رسیدلی، چې دخپل هیواد د اوبو حوزې په کومو دلایلو او په څو حوزو وویشو. (FAO) له نن څخه پنځه پنځوس کاله مخکې د افغانستان د آبیاری حوزې دری (!) ښودلې وی (؟). وروسته پنځه حوزې تعریف شولې. موږ څو ځلې د افغانستان د علومو اکاډمی کې د اوبو دمنبع او د ابیاری د حوزو برخه کې علمی کنفرانسونه لرل، چې دیوه کنفرانس د مقالو مجموعه هم چاپ شوه. دوه ځلې مو د انترکانتنیتال هوټل کې د اوبو د متخصصینو او یو شمیر پروژو د مدیرانو او د اوبو او انرژۍ د وزارت د چارواکو په ګډون کنفرانسونه لرل، زموږ یو وړاندیز دا و چې د ابیاری حوزې له سره تعریف شی. اروابناد پوهاند جیلانی عارض او پوهاند تنیوال د دغه وړاندیز هرکلی وکړ.

## دغه شپږ حوزې کومې دي؟

د افغانستان د سیمه ییزو ارگانو اداره د حکومتولی د اړتیاوو له مخي یوه ویشنه لري، یو شمیر خپلواکو ادارو او کمیسیونو( لکه دبشر حقوقو، انتخاباتو،...) هم له دغي ویشنی سره سم دفترونه فعال کړی دی. د دې تر څنگ اقلیمی زونونه لرو، چې لاهم د علمی تحقیق په پایله کی تعریف شوی نه دي، فلورا(flora) او فونا (fauna) یې ندی مشخص. دا په خپله یوې ځانگړې ځیرنیزی اداری ته ضرورت لري. په تیره بیا افغانستان د یو ډیر عجیب او نادر خصوصیت له مخی، په کوچنی ساحه کی څو مایکرکلایمتونه (micro climates) لري. لکه جنوبی او شمالی سالنگ( چې په لږ واټن کی یې دوه ډوله اقلیم متمایز شوی، حال دا چې د آسترلیا په شان یو براعظم ( لوی هیواد) په سرتاسر کې د اقلیم تنوع ډیر لږ لیدل کیږی.

په هر ترتیب؛ د طبیعی منابعو د ویشني او په تیره بیا د اوبو د حوزو ویش یوه اقتصادی اړتیا ده. د دې لپاره باید علمی ځیرنی وکړو. اوبه د انرژی د تولید، څښلو، صنعت، کښت او مالداری لپاره ضروري دی. موږ د بریښنا دتولید لپاره د انحرافی، ذخیروی ... بندونو مطالعاتو ته ضرورت لرو. او همداسي هم یو بل مهم ضرورت مو د څښلو او بل د زراعت (کرنې)لپاره دی. دلته به د کرنی برخه کی د اوبو لگولو په حوزو رڼا واچوو:

د موجوده د آبي ځمکو پراختیا د غلو- دانو د کښت (agronomy)، بڼوالي (Horticulture) او د څارویو لپاره د غذایی محصولاتو(خوراکي animal feeding) د ترلاسه کولو په خاطر او د هیواد د اقتصادی پرمختیا لپاره حیاتي ده. اوسني وخت کي کرنیزې ځمکي چې په کلنی توگه خړوبیږي، دوه میلیونه هکتاره ده (زموږ ترکښت لاندي زمکي د هیواد دټول مساحت له ٪۱۱ څخه نه زیاتیږی، چې دا سلنه هره ورځ د غیرزراعتی استعمال تر یرغل لاندي ده). د دغه رقم د زیاتوالي لپاره لاډیرې هیلي شته او هغه دا چې هغه زیربنا چې د جگړو په کلونو کي له منځه تللي، بیا ورغول شي.

یوه واقعبینانه موخه داده چي له ۵۰۰۰۰۰ څخه تر ۷۰۰۰۰۰ هکتاره پوري نوره ځمکه په راتلونکو کلونو کي،خصوصاً د هیواد په جنوب کي تر اوبخور لاندي راتلای شي. په افغانستان کي د اوبخور د سیستم د بیارغاوني په برخه کي ډیرې ښې تجربې ترلاسه شوي دي. په تیرو څو کلونو کي د اوبخور د سیستمونو په واسطه ۱.۸ میلیون هکتاره ځمکه، د هر هکتار لپاره ۳۰۰ تر ۴۰۰ ډالرو لگښت (که مثلثي کانالونه پکښي راولو ۶۰۰ – ۸۰۰ ډالره لگښت) باندې بیارغول شوې ده. دا په داسي حال کي چي ویالي په معاصره طریقه استرکاری او لیننگ شوي هم ندي. لکه هغسي چي د اوبو د لیږد د زیربنا بیارغاونه مهمه ده، همدومره د بزگرانو له خوا په کروندو کي له اوبو څخه غوره کار اخیستل او د هغو سپما کول هم مهم دي. له بده مرغه د یو شمیر موسساتو(NGOs) له خوا د بی کیفیته کار له امله چي ډیرې پیسي ولگول شوی، خو ایجاد شوی سیستمنونه بیرته ویجاړ شول او کلیوال او بزگران بی مایوسه او په بیارغاونه بی باوره کړل. عنعنوی اوبخور سیستم له منځه ولاړ او د ژور څاگانو د کیندلو له امله کاریزونه وچ شول.

افغانستان دا وړتیا لري چي دوه میلیونه هکتاره نوره کرنیزه زمکه خړوبه کړي، خو دا کار پانگي او علمی تحقیق ، ارادې او متخصص کاری ځواک ته اړتیا لري تر څو نوي بندونه جوړ، ویالي وکیندل شي او د اوبخور جوړښتونه ورغول شي او پرینږدو چي زمونږ د سیندونو اوبه مُفته ضایع شی، یا بی گټي له پولو اوړی یا هم په شگو کي

جذبیږی . د اوبو لګولو د نوي سیستم په ودانولو باندې پانګونه په هر هکتار باندې د تخمینی ۴۵۰۰ امریکایي ډالرو په اندازه لګښت غواړي ، اما موجوده سیستم که وسائل شی او ځینو خایو کی ترمیم شی ، هم لوی کار دی.

د اوبو لګولو په نوي سیستم باندې پانګونه یوه مهمه تولیدي ساحه ده چې باید په راتلونکي کې یې په پام کې ونیسو، خو د هغو لګښت ته په پام کولو سره، د اړونده بنسټونو فساد او ضعف او د امنیت نشتوالی په دې لاره کې لویې ستونزې دي. دغه ستونزې د اوږدې مودې پروګرامونو ته اړتیا لري چې په دې کې د امینت، د ورتیاوو پیاوړتیا او د کرنې اوبولګولو او مالداری وزارت، د اوبو او بریښنا(انرژي) د وزارت او د کلیو د پرمختیا او بیارغاونې وزارت ترمنځ د فعالیتونو همغږي ته اړتیا ده. پیشنهاد کیږی چې د علمی ځیرنې کار یی د لوړو زده کړو زوارت او د افغانستان د علومو اکاډمی په غاړه واخلی. دوی کولای شی د اوبو لګولو هره حوزه کې یو یو تحقیقاتی سټیشن ایجاد کړي. شپږو یا اقلاً د څلورو لویو حوزو لپاره څلورو ځیرنیزو مرکزونو ته ضرورت دی.

## د افغانستان د آبیاری د شپږو حوزو څخه د هری یوې پراخوالی پورتنۍ نقشه کی اټکل شوی دی:

هلمند تر ټولوزیات، هریرود او آمو متوسط او دهیواد جنوب کې آزاده حوزه ترټولو کم مساحت لرونکی ابیاری حوزه ده. موږ زیاتره وخت دغه وروستی حوزه هیره کړی ده، کله هم د شمال حوزه هم نه شمیرو. باید په هره حوزه کې د علمی ځیرنی مرکزونه توظیف شی، ترڅو چې موږ خپل مطالعات نه وی پوره کړی او دپوره مدیریت کولو توانایی (و.ګ: نقشه)




مو نه وی موندلی، هیڅ حکومت له ګاونډیو سره د ابو پرسره د کوم توافق، حقوقی قرارداد یا دخبرو او ویش او دې ته ورته مسایلو حق نه لري. د دې سپارښت څخه دفاع اوسنی ځوان نسل ته یو امانت وسپارل شو، امید شته چې څو راتلونکو کلونو کې به دا وس او توان پیدا کړو چې علمی تحقیقات مو بشپړ او خلکو سره په لابیګری هم بلد شو.

د سیندونو د اوبو کارونې ته خاصه پاملرنه باید وشي. همدارنګه د ځمکې لاندې اوبو په داسې ډول کارول چې راتلونکو نسلونو ته زیان ونه رسیږي. موږ باید ثبات لرونکی پرمختیا (sustainable development) دوامداره کړو.

طبیعی منابع کوم میراث ندی، دا یو امانت چي له تیرو نسلونو موږ ته راپاتی دی او موږ یی باید راتلونکو ته وسپارو. د اوبو له منابعو څخه د کروندي د اوبو لګولو لپاره کاراخیستل، تر څو د اوبو لګولو د پوتنسیال څخه په اعظمي ډول ګټه پورته شي، دعلمی تحقیق یوه بله موضوع ده چي علمی مراکز یی باید آجندا کي شامل کړي. د اوبو د منابعو څخه د اغیزمني ګټي اخستني لپاره د اوبولګولو د عصري تخنیکونو څخه په کرنه کي ګټه اخیستلو ته باید په کرنیزو پالیسیو کي ځای ورکړل شي، دا هدف هم فقط دعلمی څیړنو په واسطه ترلاسه کیدای شی.

ستاسی د نیکمرغی په هیله

**** **** ****

تذکر:

هرگاه خوانندگان محترم متمایل باشند که نبشته ها و مطالب دیگری از این نویسنده را مطالعه کنند، می توانند با اجرای "کلیک" بر عکس نویسنده در صفحهٔ مقالات، به فهرست "آرشیف" شان رهنمائی شوند!